عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۰۲/۰۲

# د بې مسؤلیته څرګندونو ځواب

**له بده شامته لکه تل پاکستاني چارواکي زموږ د هېواد په ګنو چارو او کارونو کې لاسوهنه کوي. دا ځل یې بیا په بېشرمۍ سره دا کار کړی دی. په ملګرو ملتونو کې د پاکستان استازي منیر اکرم د افغان نجونو پر مخ د ښوونځیو او پوهنتونونو د تړلو پـړه  د افغانانو پر کلتور وراچولې ده.**

**د افغان جرمن پورتال اداره په داسې حال کې د دې پاکستاني چارواکي دا بې مسؤلیته څرګندونې غندي؛ په ځواب کې یې د سترګور سیاستوال او پیاوړي قلموال غفور لېوال ځواب خپروي.**

افغان جرمن پورتال اداره

جناب منیر اکرم!

**د افغانانو د فرهنګ (کلتور) په اړه ستا نامسئولانه څرګندوني د یوې ژورې ناپوهۍ، ناخبرۍ، د ټیټ او روسته پاتي کلتور نښې دي.** حیران یم، چې له فرهنګ ناخبره یو شخص څنګه، په ملګروملتونو کې د یوه مصنوعي، بې تاریخه او بې ملته پوځ استازولي کوي؟

جناب اکرم!

**اول:**

تر دې مخکې چې د افغان فرهنګ په اړه څه ووایې، هیله ده فرهنګ (Culture) راته تعریف کړې.

زه غواړم پوه شم، چې ته فرهنګ پېژنې؟

او که یې پېژنې، څنګه یې پېژنې؟

**دویم:**

د افغان فرهنګ په اړه په څه پوهېږې؟

څو کتابونه، څومره لیکنې یا لږ ترلږه څو کرښې دې د افغان فرهنګ په اړه لوستې؟

خوشال خان خټک پېژنې؟

د هغه د «دستارنامې» نوم دې اورېدلی؟

ایا خبر یې چې څلورسوه کاله پخوا دغه ستر افغان د نجونو او هلکانو د زدکړو په اړه څه ویل؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

لنډۍ پېژني؟

د اتڼ نوم دې اورېدلی،

د پښتنانه او ډول او څنو راتاوېدو فرهنګ دې لیدلی؟

غني خان پېژني؟

باور لرم، چې یو هم نه پېژني.

له دې خبر يې چې د حبيبيې ليسه ستا له هېواد او نړيوال وجود څخه ۴۴ کاله مشره ده؟

هو! ۴۴ کاله مخکې تر دې چې ستا هېواد او تاريخ وزيږي، افغانانو عصري تعليم کاوه، خبر يې که نه؟

کابل پوهنتون، چې د اسيا په لويو او مهمو پوهنتونونو کې و، ستا تر هېواده ۱۵ کاله مشر دی. ستا هېواد او ستا تاريخي وجود د افغانانو له لومړني معاصر پوهنتون څخه ۱۵ کاله کشر دی.

ستا د هېواد تر زيږېدو پوره ۲۶ کاله مخکې دلته د مېرمنو نهضت پياوړی و، د نجونو ليسې وې او ارشادالنسوان خپرېده.

د افغان فرهنګ استازې (مېرمن پروين) چې خپله لومړۍ سندره په ملي راډيو کې ثبتوله، ستا هېواد نوی زيږېدلی و.

د افغان فرهنګ يوه خورا کوشنی برخه؛ ښځينه موسيقي او تياتر هم ستا له هېواده مشران دي.

ته خبر يې چې ستا د هويت متفکر مغز (لاهوري اقبال) د افغان فرهنګ په مدحې او ستاينې ځومره ځان ستړی کړی دی؟

که افغان فرهنګ نه پېژنې، اقبال خو به پېژني؟

لږ يې ولوله!

مسافر، جاويد نامه، اسرار خودی، رموز بيخودی، پيام مشرق، زبور عجم او نور ولوله، افغان فرهنګ هلته پېژندلای شې!

جناب منير اکرم!

ستا فرهنګي پلازمېنې ته زما له غزني څخه تمدن او زما له کندهار څخه حکومتولي درورل شوې ده، په دې خبر يې؟

تر دې مخکې چې ستا په استخباراتي قلمرو کې انګريز شاتګپالي مدرسې جوړې کړې او بيا د پوهنې ضد او ښوونځي ضد افيوني روايتونه (Colonial narrative) راصادر کړي، زما فرهنګ په خورا طبيعي بڼه وده او تکامل کاوه. عصري ښوونځي مو درلودل، په کندهار کې د نجونو ليسې او هلته د سلګونو ښځينه مېرمنو عصري تدريس هم يو کال ستا له هېواد څخه پخوانی تاريخ لري.

خپله خبره بېرته واخله او شرافتمندانه ښښنه وغواړه!

او که نه، نړۍ به پر خپله بېسوادی، ناخبری او ناپوهی وخندوې.

موږ کولای شو، يو مهال چې دروزګار شو، د هويت جوړولو بنسټونه او د فرهنګ پېژاند درزده کړو. موږ په دې چاره کې اوږده تاريخي تجربه لرو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ